کله چې دافغان مجاهدانو دکابل باتوروشاه ځلمیانو دملحدواولاسپوځي رژیم په خالو باندي د سرتاسري اوپریکنده گوزارونو پلانونه اودستوروونه په کاراچولې ورسره جوخت دنړي ښکیلاك گراواسلام دښمنه ځواکونو دځپلو گوداگیانو دحمایې اوالقلا دیوځه وخت دپاته کیدو لپاره رنگارنگ دروغجنې اوغولوونکې دسیسي رامخې ته کړي چې دکمزوري او سستي عقیدي خاوندان یې پري تیرایستلي اودجهادي پرمختگ په لاروچاروکي یې دیوي کلکي دښمنانه حربې په وسیله استعمال کړي اودجهادي فتحي دکاروان دبریالیتوب مخه یې پري څه ناڅه له ځنډسره مخامخ کړیده ، ولي واقعي مجاهدین لله الحمد په خپل مرام اومقصودکي بریالي شوي له دښمن څخه یې سترسترټاروونه اوټینگ پوځي سنگرونه نیولي اوددښمنانو دسیسي یې ورشندي کړي دي .

لکه څنگه چې څه موده مخکي اصیلو جهادي ځواکونو دملحدرژیم دمزدور وواکدارانو پرڅالو باندي پرکابل ، وردگ ومیدان ، لوگر، پکتیا ، ننگرهار، پروان ، کاپیسا اوداسي نورووولایتونوکې دسرتاسري پریکنده گوزارونو واحده قومانده دمجاهدو رهبرانو په لارښوونه اودسنگردمجاهدو قوماندانانو په سلا اومشوره سره صادره شوه ، مجاهدینو په تومورو سیمو کې پردښمن باندي کلك گوزارونه وکړل اولا تراوسه هم دوام لري، په ننگرهاراوپکتیا کې همدا اوس هم جنگ په شدت روان دي

اودښمنان یې په دفاعي حالت کي ترسختي کلابندي لاندي راوستي دي ، خو اسلام دښمنه ځواکونو چې په سرکي یې دنوي نړیوال نظام خونخور اوظالم واکداران اودمنحل شوي سري امپراطوري ونډورچیان اودهغوي پلویان پراته دي خپلې ناوړه هلي ځلي په کاراچولي ، اودسرتاسري پریکنده عملیاتو دمخنیوي په اره یې دېخوا په شان نوي غولوونکي طرحي اوپلانونه رامنځته کړي دي ترڅو خپل لاسپوځي دیوځه مودي لپاره نورهم دختمیدو څخه بچ کړي . دنوي نړیوال نظام اودوحشي کمونیزم دواکدارانو دگډ اوسنجول شوي پلان په نتیجه کي دملگرو ملتوسرمنشي دافغانستان ددیارلس کلنې شخري دحل وفصل په باب دسولي اوامن یوپنځه فقره ایزه طرحه دسرتاسري عملیاتو په لاره کي دیومانع راوستو په

اره اعلان کړه ، چې حتي دځینو کمزورو او په اصطلاح دجهادي دلودتاند اومنلو وروگرځیده اوپه داگه یې پردښمن باندي دسرتاسري عملیاتو داجراکیدوسره مخالفت څرگندکړ، اواعلان یې کړه چې مامې ځپلو قوماندانانو ته قومانده ورکړي چې په دي عملیاتوکي ونده وانخلي او زمونږ مسئله ، باید دسولي اوخبرو اترولة لاري حل وفصل شي،پداسې حال کې چې داسلام دښمنه تجاوزانو شوم اوله غرضه ډك مرامونه ټولو مجاهدو هیوادوالو اونړیوالوته په ځرگندشوي اوپه دغې طرحي کي داسلام اومجاهدینو دمرام اومقصد ځرگند مخالفت ترسترگو کیده خوبیا هم دځه طمعي اوبازیاتي برخي په اېښودوکي یې دغې یې تنگي ته بدي ووهلي اودیوځانگړي شوم مقصد په خاطریې دمجاهدینو اوپه افغانستان کي دیوسوچه اسلامي حکومت دراوستو ددښمنانو هرډول فرمایش اودستورته دغلامي سره ټیټ کړ .

دنړیوالوزبرځواکونو ددعوتونو اولیدنوکتنو لړي ورځ په ورځ مخ په وړیدو اوپراخیدو ده غواري پدي وسیله خپل بچوري دمجاهدینو دپریکنده گوزارونو څخه په امن کړي اوپادخپلي خوښي حکومت دکابل دگوداگي کمونیست نجیب دحکومت په ځاي راولي ترڅویې ځپلي شخصي گټي دخطر څخه بچ اوپردغه مظلوم ملت باندي بیا دزره خواله حکومت وکړي ، داځلي یې دهغه مقصدپه پلي کولو سره اقدام کړي چې مجاهدینویې هم داديارلس کاله غوښتنه کوله ، چې هغه له اصلي دښمن یعني روسانو سره دمجاهدینو مخامخ خبري اتري کول دي ، خومتاسفانه چې دغه ډول لیدنه اوکتنه دمجاهدینو غوښتنه نه وه ، مجاهدینو دځپل عزت اوسرلوړي دپه نظرکي نیولو په خاطر خپل پیشنهادو ته وراندي کړل، ولي دښمنانو لکه څنگه یې چې غوښتل جهادي رسالت یې تریپښو لاندي کړ اوځان یې دیوه حقدار په صفت وباله اودمجاهدینو هیئت یې دځپلي غوښتني سره سم روسیې ته دعوت کړ .

لکه څنگه چې ومو لیدل دلړم دمیاشتي په ۱۷ نېټه دمجاهدینو دځینو تنظیمونو په گډون دجمعیت اسلامي دمشراستاد برهان الدین رباني په مشري

بوخوارلس کسیزهیئت دافغانستان مسئلي دحل وفصل په اره دمسکو په تیت لومړي سعودي عربستان ته دزیارت کولو اوبیا دنړي بکشنبي (۱۹ر۸ر۱۳۷۰) په ورځ روسیې ته ورسیدل. خوځینو جهادي مشرانودغه سفرداسلام اوجهادضداوځینو هم دشروطویه منلو سره اشتراك کول جایزوگڼل اوددي خبري یادونه یې هم وکړه چې اصلا روسان په خپل قول اوعهد کي ریښتینې ندي واقع شوي ، تل یې له دروغو او فریب څخه کاراخیستی دي ، نوکه چیري زمونږ شرطونه واقعا ومنل شي اوپه عهد باندي وفاوشي زمونږ هم داغوښتنه ده چې په افغانستان کي ددیارلس کلني تیل شوي لاجي دراوستوداصلي منبع یعني روسانوسره مخامخ خبري اتري وشي اودامسئله نوره حل وفصل شي .

دحزب اسلامي مجاهدامیر حکمتیار دیوه روسي هیئت دزیاتو پوښتنو په لړکي دیوي پوښتني په ځواب چې تاسي مسکوته دمجاهدینو دهیئت دلیږلو څخه حمایت نه کوي ، آیا دغه کارصحیح ندي ، اویاحمایت ورځني کوي ؟ داسي وفرمایل : داکارزموږدبهرني سیاست دمهمو اصولو څخه دي، دافغانستان په مسئلي کي اخته اصلي ولي مجاهدین اوروسان دي، اوهمدا دوي ولي باید ددي مسئلي په حل وفصل کي تفاهم اومذاکره وکړي موږله روسانو سره دمخامخ خبروطرفدارېو، خودافغانانو په مسئله کي دروس اوامریکا دمذاکراتو کلك مخالف یو داځکه چې دادواړه دافغانستان دملت نمایندگان ندي،او... همدارنگه دروسي هیئت دیوي بلي پوښتني په ځواب کي چې تاسي دمسکوله مذاکراتو څخه څه توقعات لري ! وویل : که موږددغومذاکراتوڅخه څه توقعات درلوداي نوماپه هغه ځاي ته خپل نماینده لیږلي واي، په همدي دلیل زه لدي مذاکراتو څخه هیڅ توقع نلرم اوباورلرم چې ستاسي مشران پواځي غواړي چې خپل ملت ته وښیي چې دادي مویدجنگي بندیانو په برخه کي تپ وتلاش کوو، پداسي حال کي چې دبندیانو مسئله زمایه نظر یوه کوچنۍ مسئله ده او ...

دنړي دخبري سرچینو په حواله دمجاهدینو هیئت دمسکودرئیس جمهورله معاون الکساندر ریتسکوف سره دخبرولوړي دورسرته رسولي ریتسکوف ویلي چې موږپه ټول توان کوښښ کووچې دافغانانو دیارلس کلنه لانجه حل شي . دغه رازیې دوهمه دوره خبروکي چې دروسیې دبهرنیو چارو دوزیرپنکن سره سرته ورسیدي پنکن وویل چې موږپه کابل کې ! دیوه خاص مشر په ټاکلو هیڅ ټینگارنه کوو او نه دیوي خاصي ډلي دحکومت جوړولوطرفداریښکي

موږغواړوچي دافغانانو مسئله حل پیداکړي اوداځپله دافغانانو ځپلمنځي کاردي ، افغانان باید پریښودل شي چې ځپله مسئله په ځپله حل کړي اودځپلې خوښي حکومت جوړکړي .

ولي دمجاهدینو هیئت کله چې دنجیب دقدرت دختمیدو اوله منځه تلو په باب ټینگاروکړ ، پنکن وویل: چې موږ داکارنشوکولای ، موږیوځلي دافغانانو په داخلي چاروکې لاسوهنه کړي اوبیا یې داعمل نه تکراروو. لدي نه په ځرگنده معلومیږي چې روسان اوس هم له نجیب څخه تیرندي اودوروزرحکمتیار ټول فرمودي چې وایي روسان مجاهدینو ته مخلص ندي ، له فریب اومکاري څخه کاراخلي، بالکل دیوره حقیقت درك کولو ځرگندوني دي ، که چیري روسان مخلص واي نودافغانانو دمسئلي اصلي دحل تکي چې هغه دکابل دملحدحکومت له منځه وړل اوپرڅاي یې دمجاهدینو په لاس دسوچه اسلامي حکومت جوړول دي، منلوته غاړه ایښي واي . خوموږداپوچي مجاهدین به ددښمنانو په هیڅ ډول دسیسو اوتوطیو سره له ځپل هود څخه وانه وړي اوته به په دغودسیسو سره دمجاهدینو دهماهنگو سرتاسري عملیاتو جریان له ځندسره مخامخ شي ، داکړیدلي او ځوریدلي ملت ددېریوشوتجربو درلودونکې شوي، ځپل جهادته به دځپلي خوښې اسلامي سوچه حکومت دجوړیدو تر وخته ادامه ورکوي او دجهاد دادامي پرته دبلي لاري امید واري هم نلري .

دتنظیم طلبه دیني له خوا دخالد بن ولید «رض» په نوم نوي حلقه جوړه شوه

پوره دلړم ۲۰ مه

دروان کال دلړم دمیاشتي په ۳۰ مه نیټه دتنظیم طلبه دیني لخوا دبوي غونډي په ترځ کي دخالد بن ولید (رض) په نوم یوه نوي حلقه جوړه شوه .

داحلقه کي ۳٦ کسان غړي لري او دطلبه دیني له مسولینو سره یې ژمنه وکړه چې دوي به ځپل دیني اواسلامي کاروته دطلبه دیني داوصولو سره سم برمخ بیایي اودښمنانو هرډول توطیې به په اسلامي اوانقلابي اصولو برابري خنثي کوي.

دي حلقي ځپلي انتخابي ټاکني پدي ډول اعلان کړي :

وروور محمد نور " نوراني " دناظم په توگه.

وروور محمد حنیف " حنیفي " د مرستیال په توگه .

وروور محمد عسکر «محمدي» دفرهنگي مسئول په توگه

همدا راز دبنودمظهر العلوم په مدرسه کي دیوي بلي نوي حلقي انتخابي ټاکني پدي ډول اعلان شوي :

طالب العلم استانه گل دناظم په توگه .

گل احمد دمرستیال په توگه .

اختر محمد " اکرمي " دمالي مسئول په توگه .

محمد ایوب " فرقاني " ددعوت دمسئول په توگه وټاکل شول .

دنوم بدلول

بیرك دگل زمین زوي دننگرهار ولایت دروداتو ولسوالي دزیارت کلي اوسیدونکي چې اوس د اشاعت الاسلام حنفیه په مدرسه کي زده کړه کوي ځپل نوم یې په محمد زبیر بدل کړي له دوستانو څخه یې هیله کوي چې تومورې په نوي نوم سره وپیژني .

وروور سرتورخان دمیراجان زوي دننگرهار ولایت دخیوي ولسوالي پهبالي کلي اوسیدونکي چې اوس ددرگي په کمپ کي هستوگنه لري اودسیدجمال الدین افغان دلیسي دلسم (ز) ټولگي زده کوونکي دي ځپل نوم په رفیع الله سره بدل کړي.

معلومات طبي

کرم های هموار

داکتر نجیب الله محبوب

کرم های هموارانواع مختلف داشته وانواع گوناگون آن درهرکشور وجود دارد ونظربه هر جنس سبب تولید تکالیف مختلفه هضمی عصبی وغیره میگردد این هابه شکل فیته مانند ودارای پارچه های متعدد بوده ونوع مذکر ومونث آن دریك کرم قراردارد بااین معنی که تخم بابیضه دروجود کرم ساخته شده ودرهمان وجودالقاح به کمال می رسد این هادارای سیستم هضمی نیستند لذا مواد غذائی را بااتماس توسط جلد خود جذب میکنند ازاینرو هرقدرطول حیوان بیشترباشد چانس ضیاع موادغذائی ازوجود میزبان بیشتر است . خوشبختانه اکثرانواع این کرم هادرمملکت ماموجود نیست لذا شرح آن هانیز دراینجا لزومی ندارد اما دونوع آن ها که درمحیط ماواقعات آن زیاداست ذیلا شرح میگردد .

۱ - کرم کدودانه

این کرم ازطریق گوشت گاو که بدرستی پخته نشده باشد داخل وجود انسان میگردد واقعات آن بیشتر درحبشه ، کینیا، یوگوسلاویا ، شرق میانه ، مکسیکو وامریکای جنوبی است این کرم درامعای رقیقه انسان تا ۲۵ سال زنده مانده می تواند شکل کامل آن ۱ - ۳ مترطول دارد تخم های آن درمواد غایطه انسان اطراح شده ودربین خاك وعلف تامدت های طولانی زنده میماند این علف توسط گوسفند، گاو یاسایرحیوانات علف خوار خورده شده وباین صورت تخم درامعای رقیقه حیوان آزاد واز آن به عضلات حیوان انتقال وجابجامی شود دراینجا به فاصله ٤ -۳ ماه انکشاف آن تکمیل میگردد لذابعد از ذبح اگر گوشت این حیوان کاملا پخته نشده وتوسط انسان خورده شود پرازیت مذکورداخل امعای انسان شده ووجودانسان محل نشو ونمای مناسبی برای آن است .

بعض مصابین این کرم هیچ تکلیفی ندارند یا شکایات شان جزئی است بصورت عموم دل دردی های گذری ، گرسنگی واشتهای زیاد ، باختن وزن ، اسهال وناراحتی عمومی زیاد است پارچه های وجود کرم بعضا بصورت حلقه حلقه بامواد غایطه یکجا اطراح میگردد بعض اوقات حرکات حلقه های مذکور زیادترشده وبه تنهایی ازطریق مقعد خارج میگردند وبدون اینکه مریض ازآن آگاه شود حلقه های آن دربستر خواب بازیر دریشی شخص دریافت می شود . ندرتا امکان دارد این حلقه ها بالای اپندیکس ، قنات صفراوی یاپانقراس جاگرفته وسبب انسداد آن هاگرددکه به عملیات عاجل جراحی ضرورت می افتد .

تداوی مرض مربوط به داکتر است .

به مقصد وقایه گوشت گاو باید بدرستی پخته شده وبعدمصرف شود . منجمد ساختن (گذاشتن دریخچال) ونمك زدن کالی گوشت نیز سبب ازبین رفتن کرم میگردد .

یکنوع دیگرکرم کدودانه بنام TAENIA SOLIUM یادمیگردد ومیزبان بین البین آن (متلیکه درنوع فوق الذکر گاوبود) خوك است وخوشبختانه واقعات آن درمملکت ما وجود ندارد .

۲ - کرم هموارکوتاه یا HYME-NOLEPIS NANA کرم

برعکس کرم کدودانه میزبان دیگری نداشته ولارواوتخم آن هردو دربدن انسان انکشاف میکند شکل کامل کرم درحدود ۲ سانتی مترطول داشته وبرای چند هفته محدود در امعای رقیقه انسان زندگی میکند پارچه های آن بسیارکوچك بوده وندرتا درمواد غایطه دیده می شود وقتیکه تخم آن توسط شخص مصاب اطراح شده توسط سبزیجات مثل یامیوه جات خورده شده ودرامعای میزبان جدید به انکشاف شروع میکند .

موقعیکه تعداد کرم کم باشد مریض هیچ شکایتی ندارد اماگرتعداد شان زیادگردد شاید دل دردی های گذری بوجود بیاید که بعضا بااسهالات همراه است لذا درهرواقعه دل دردی بایدٍ مصاب بودن باین کرم مدنظرباشد احیانا امکان دارد نزداطفال سرچرخی یاحملات ضعف بوجود بیاید که علت آن مواد کیمیاوی آزادشده ازکرم که بالای سیستم اعصاب تاثیرسوء دارد است .

غرض وقایه تدابیرخاصی وجود ندارد بلکه باید تمام مقررات حفظ الصحه شخصی ومحیطی مراعات گردد .

بزم باديواست آدم راوبال

په غرنده کي دجنګ دتاوان پرځاي، دافغانستان په بيارغاونه کي دروسي واکمنو په وتله اخيستو ترکيزوشو، چي بيا همدغه خبري داسلام آباد په خبري کنفرانس کي هم ديوه جهادي مشرله خولي زمزمه شوي اوهغه دهيآت ستره کارنامه وګڼل شوه .

داباهي د تهران پوهنتون ديوه استاد دامريکا پوتيك (سفرنامي) له دي خبرو سره څرنګ ټکر خوري چي : له ويتنام څخه دامريکايي قواو ترايستو وروسته دامريکا حکومت داوراندېزوکړ چي بايد ويتنام ته ددوستي يوهيئت ولاړشي او هلته چي څومره وراني شوي هغه بايد ټولي سروي شي چي بيا دويتنام له مشرانو سره په دغه باب وړکومك وشي .

ددي خبرو ترراتللو وروسته دسفرنامي ليکونکي خپل نظرداسي څرګندوي :

ښه داده ، چي ويتنامي مشران دبيا رغاونې په نامه له امريکاڅخه څه وانخلي نه يوازي دبيا رغاونې له پاره چي دجنګ دتاوان په نامه تري هم دڅه شي غوښتنه ونکړي ! ځکه چي که تاوان واخيستل شي، نوبيا ويتنام مجبوردي چي له امريکا سره دوستانه چال چلند پيل کړي !

اخير، زموږ داسلامي انقلاب اوميړني اولس حيثيت ولي پرڅمکه ويشتل کيږي !! زموږ انقلاب اوميړني اولس ته خو ترويتنامي انقلاب اواولس هم په کمه وګڼل شو . اخير داولي ؟ نوردجنګ دتاوان اخيستل هم ښه نه ګڼي، خوزموږ مشران (!) دبيارغاونې په نامه خيرات ترلاسه کول هم خپله ستره کارنامه ګڼي !!

راتلونکي تاريخ اونسلونه به هيڅکله ددغومشرانو داتيندك اوتيروتنه ونه بښي ، او هغه به زموږ دجهاد په تاريخ کي دهغوتيندکو تسلسل وګڼي ،چي تيروفاسدو واکمنو مو وخت پروخت خوړلي اوملت يي له بدي ورځي سره مخ کړيدي .

دملتونو په تاريخ کي ډيري داسي شيبي اولحظي راځي چي که له تدبيرڅخه پکي کاروانه خسته ليتي شي ؛ نوبيا پيړي پيړي دهغو سزاګالي ، پوشاعريه دي باب څه ښه وايي چي : يك لحظه غافل بودم وصدساله راهم دورشد .

دمسکوګډه اعلاميه دمجاهدينو ستونزي نشي حل کولای

نوروز

دروسيي دواکمنانو اودافغانستان دځينوجهادي تنظيمونو د مشرانو له خوا په مسکوکي په داسي حالت کي يوه ګډه اعلاميه خپره چي دافغانستان دمسلمان ملت دجهادي قوتونو له خوا دکابل په رژيم باندي دوروستي غوڅ ګوزار لپاره يوکلك تياري نيول شوي دي .

څرنګه چي څه موده دمخه دافغانستان دځينو ولايتونو په مرکزونو لکه په جلال آباد، ګرديز ، لغمان اوغزني کي دکابل رژيم پر قواوو باندي يولړ درانه ازمايښتي عمليات ترسره شول چي دهغو په نتيجه کي اوبه تيره بياد کابل پربنارباندي دمجاهدينو دمنظموعملياتو دپيل څخه دکابل رژيم زيات په انديښنه کي ؤ .

همدا سبب ؤ چي ددغه شان حالت او په مزدوررژيم د ټوروسختوعملياتو دمخنيوي له پاره روسيي دمجاهدينو يوه هيئات ته مسکو ته دسفربلنه ورکړه ، خودجهادي قوتونو کلك دريځه مشران د مسکو په دي هلوځلوباندي لادمخه پوهيدلي و و اودغه بلنه يي داسلامي عقيدي او دبين المللي اصولو له مخي سمه نه بلله چي يومظلوم ،خودجګړي فاتح دي ديوه تيري کوونکي اودجګړي مغلوب زبرځواك هيواد کورته دروغي او جوړي لپاره ورشي.

خو، سره ددي هم ځينو دوستو اوګاونډيو مسلمانانو هيوادو ددغه سفردسرته رسولو له پاره ټينګار کاوه چي بالاخره دځينو جهادي تنظيمونو مشرانو دسفريه ترڅ کي دروسيي له واکمنانوسره په مسکوکي يوه ګډه اعلاميه لاسليك کړه .

که څه هم مسکوته ددغومشرانو دسفريه لومړي سرکي ددغي اعلاميي دلاسليك امکانات ډيرکم وو، خوروسان چي په دي وختوکي دکابل پربنار باندي دجهادي قوتونو دپريکنده عملياتو څخه په ويره کي وو ، دغه اعلاميه يي لاسليك کړه .

په اعلاميه کي دروسيي ديوي دلي بنديانو په آزادولوباندي چي له مجاهدينو سره بنديان دي، ټينګارشوي دي.

که څه هم دروسيي داوسنيوواکمنانو اصلي مقصددادي چي نړيوالو ته دچاخبره خپل دسولي غوښتني سياست وښيي اوپه کابل کي خپل مزدوران له يو مخبيزي تاپودي څخه وساتي ،خودروسيي بنديانو آزادول يي هم يومهم هدف دي .

په اعلاميه کي په افغانستان کي ديوه اسلامي مؤقت حکومت دجوړيدواودنجيب په رژيم باندي دراتلونکي عيسوي کال دپيل څخه د مخه ديوځي مهماتو اوخوراکي موادو دبندولويادونه شوي ده چي هغه يي ديوي دلي روسيي بنديانو په ازادولوپوري تړلي ده .

کتونکي باورلري چي که روسيي په دي برخه کي له مجاهدينو سره پوره اخلاص اوديوي رښتيني روغي ، جوړي نيت اوقصد درلوداي ،نوپرنجيب باندي به يي ديوځي اوخوراکي موادو دبندولوکار دروسيي بنديانو په آزادولو پوري نه تاړه او دغه کاريه يي پرته له کوم شرط څخه دمجاهدينو اوروسانوترمنځ دريښتياني روغي جوړي ديوه بنسټ په توګه په مسکوکي داعلاميي له لاسليك سره سم عملي کړي واي.

له بلي خوا دروسيي اوسني واکمنان په تيره بيا دروسيي ترناکامي کودتا وروسته دروسيي د ځينو جمهوريتونو خپلواکي ومنلي او په دي ترځ کي دروسيي د فدراسيون جمهور رئيس يلتسين ويلي و چي څرنګه روسيه په خپله له زياتو اقتصادي ستونزوسره مخ ده ، نوبايد د افغانستان اوکيوبا ، ته دخوراکي موادواودنوروارتياورموادوليږل بند شي.

نوله دي څخه څرګنديږي چي روسيي له پخوا څخه په دي برخه کي ستونزي درلودي خو اوس غواړي خپل هغه هدف ته چي په افغانستان کي دهغوي په خوښه ديو ګډحکومت جوړول دي ورسيږي ،مګر دمجاهدينو سخت دريځومشرانو دهغوي دغه ارمان له يوڅه ناکامي سره مخامخ کړي دي.

له دي امله دروسيي واکمنان په دي پوهيدلي دي چي جهادي قوتونه اوس خپل هدف ته چي په افغانستان کي ديوه سوچه اسلامي نظام قايمول دي بيخي نژدي شوي دي ، نو هغوي غواړي چي له پوځي لاري څخه هدف ته درسيدو لپاره دمجاهدينو دلاري خنډشي اوپه سياسي وګرکي دافغانستان دلانجي دروغي جوړي دسفرونو په پيلولو سره دغه بهير اوپروسه لړشاته وغورځوي اوله تودو سنګرونو څخه دخلکوپام بل لورته واړوي .

په همدغه اعلاميه کي له دووګلونو وروسته ديوه منتخب حکومت درامنځته کيدو يادونه شوي ، حال داچي دا په خپله دافغانانوکوروني موضوع ده په هغي کي دبل چا لاس وهنه يوبي ځايه اوله نړيوالو اصولو مخالف کاردي، په دي برخه کي بايد په خپله دافغانستان خلك تصميم ونيسي ،اوکه په دي برخه کي موږډيريو اوکفري ځواکونو سره سلاومشوره کوو، نو زموږ خپلواکي په شك کي اچوي.

له بل پلوه په دي اعلاميه کي هغه مهمه موضوع چي دجهادي قوتونو لپاره اهميت لري ، هغه دروسيي تيري کوونکي او ماتي خوړونکي ابرځواك له خوادافغانستان دجګړي دتاوان اوغرامت ورکولوخبره ده چي په دي برخه کي دمسکو په اعلاميه کي هيڅ يادونه نه ده شوي ،اوپه دي اعلاميه کي دتيري ترمعذرت غوښتلو وروسته بايد دجګړي دتاوان موضوع ځاي کړي شوي واي.

چون وچرا

ذبيح الله شرر

دحضرت صيب اوبي نظيري مصافحه

له اخباري راپورونو سره سم څو ورځي وړاندي دترکيبي دملي ورځي په مناسبت په جوړشوي محفل کي ، دحضرت صيب اوبي نظيري يو په زړه پوري ملاقات وشو. په محفل کي پرنورو شخصيتونو علاوه دپاکستان پخواني لوي درستيز جنرال اسلم بيګ هم حاضرو، په ټالارکي بي نظيرکوم خوا روانه وه چي يوخبريال تري تپوس وکړچي تاسي داسلم بيګ ليدلو له ځي اهغي ځواب ورکړ چي نه ، زه دحضرت صيب ملاقات ته ځم . اوچي د حضرت صيب حضور ته ورسيده نو په ډيره ګرمي يي ورسره مصافحه وکړه خواخبارونو داته ؤ ليکلي چي لاسونه يي ورله ښکل کړل اوکنه ، سره له دي چي دحضوريابي دادب داغوښتنه وه چي بايد ښکل کړي يي واي اوغبرګ يي ښکل کړي واي . مګر اخبار دبي نظيري داشوخه فقره ليکلي وه چي : زه خولاس درکوم مګر که خلکو وليدو نو يوه غوغا به جوړه شي ! فکر نه کوم چي په محفل کي شريك مېلمانه به ټول ړانده اوګڼه به يي نه وليدلي ، که نورځوك ړانده شي نوخبريالان خوهيڅکله نه ړانده کيږي ،مګر کيدي شي چي بي نظيري ته ناست خلك ، خلك نه وي ښکاره شوي، په هرحال له يوي غرب ځپلي پردي ښځي سره ديومسلمان دمصافحي جواز اونه جواز دي مولوي صاحب خالص اوبامولوي صاحب محمدنبي موثر ته په ګوته کړي ځکه چي په دي هکله ددين دعالمانوخبره زياته معتبره ده اوکيدي شي چي دوي کومه تياره فتوي اومخکني پريکړه هم په دي باره کي ولري ځکه چي يو ځل دوي له هماسي يوبحران سره هغه وخت مخ شول کله چي فاطمه ګيلاني دمؤقت حکومت دبهرنيوچارو دوزارت لپاره کانديد شوه خودداړو مولوي صاحبانو کلك دريځ هلته په لندن کي ايساره کړه . له خبرو نه خبري زيږي موثر دمحفل خبره ګوله اودحضرت صيب او بي نظيردمصافحي .که سړي لا په ونکړي نودغه شان محفلونه نه موثر ليدلي دي او نه مو ورته ځوك پريږدي خو داخبارونو دراپورونو اوعکسونوته داسي معلوميږي چي دغسي محفلونه له هرډول بي حيايي ،بي پردګي اوشرابو کبابو نه ډك وي ، نڅاګاني اوداښيونه ،خوبي معمول وي اوکله ناکله پکي سړي دومره مجبوره شي اوبيا په احساساتو راشي چي پخپله هم ونڅاميدان ته ورودانګي . لکه څه موده وړاندي چي داندونيزيا دسفارت په پروګرام کي دپاکستان دقومي اسمبلي سپيکر (نطاق) همدغسي يوميدان ته ورودانګلي و اواوس تري علماؤودنيښتي لاروورکه کړي ده ،البته زموږزداده چي خداي (ج) دي هيڅکله حضرت صيب له داسي موقف سره نه لاس په ګريوان کوي خو ښه به داوي چي ديونيم ميليون شهيدانو وارثان دي دعيش او نوش په محفلونوکي برخه نه اخلي ځکه چي نه زموږظاهري وضعه ورسره جوړه ده (دميني ژوب په محفل کي ، زيره اوپګړي خوند نه کوي ، بلکه سپکاوي يي دي) او نه موږرونه دومره فارغ دي چي دهرچاپه خوشحالي کي ډول ځنګ ته واچوو.

ښه راځي چي بيرته محفل ته لاړشو ،مصافحه وشوه اوله هغي وروسته دبي نظيراو حضرت صيب ترمينځ لاندي "مکالمه " وشوه:

بي نظير: خبره شوي يم چي تاسي مسکوته دتلو اراده درلوده !

حضرت صيب : هو ،مخکي مي پروګرام ؤ خواوس استادرباني دهيئت مشري په غاړه لري.

بي نظير: ماويل که تاسو تللي نوزه به هم درسره لاړه شم هلته به ستاسي ترجماني کوم .

حضرت صيب : که زه تلم نوګايه له ځان سره يوځم .

مکالمه ختمه شوه ،مانه دامعلومه نده چي بي نظيريه روسي ژبه پوهيږي اوکنه ،غالبا چي نه به پوهيږي ځکه چي عمريي ټول له انګريزانو اوامريکايانوسره تيرشوي اوپه انګليسي ژبه حضرت صيب پخپله ښه پوهيږي نوبي نظيريه دڅه شي ترجماني وکړي ؟ داخبره دځودوستانو په مخ کي کيدله چي يوه پيشنهادوکړ ،چي حضرت صيب ورته بايد داشيږي چاره ويلي واي ، بل ځوان رامنده کړه چي ققالني دبادي ګاره و جنګو يوکنهك له ځان سره ګرځوي نوحضرت صيب ......

ماورته وويل چي نوري خبري پريږدي اوبادعاوکړي چي مسکوته دحضرت صيب اوبي نظيري دسفرارمان پوره شي ، دمتصبونو اوپوستونو دتعيتولو کار زموږ نه دي چي هغوي پري څنګه خوښ وو. هغسي زموږ خوښه ده .

دجماعت الدعوة ابلاغيه

دسولي کميسيون ته
اوټولو مسلمانانوته

موږ دهغه خط په رابطه چي دجمعي دمبارکي ورځي په لس نيمو بجو راته ورسيد اودشيخ عدنان عرعور چي دسولي دکميسيون رئيس اودکميسيون ديوه غړي چي ابوصهيب نوميږي داستعفاء خبر پکښي وه ،عميقا دتأسف اظهارکوو.

اولکه څرنګه چي مخکي زموږ اودحزب اسلامي ترمنځ دسولي دکميسيون په رابطه داسي توافق شوي چي کميسيون به دټولو اعضاوو په حضور چي په کميسيون کي ګډون لري خپلي فيصلي کوي داچي اوس يي دوونو استعفا کړي ، نوپردي اساس کميسيون خپل حيثيت له لاسه ورکړي.

اوله دي مخکي چي يي کومي فيصلي کړي موږ هغه منو . اوپه پوره صداقت اواخلاص دهغوځلوروفيصلو په اروند چي کميسيون کړي خپله پابندي اعلانوو.

مولي سميع الله
اميرجماعة الدعوة الي القرآن والسنة

دسولي دکميسيون خاصه بيانيه مامطالعه کړه ،اوله وروتو سره مي وړياندي موافقت وکړ ، سره لدي چي هغه زما په غياب کي ليکل شوي وه خودي ته ضرورت نشته چي زما په حضور کي وليکل شي ځکه زه بيا دسولي له هيئت سره پدي رابطه ګورم او وروسته له موافقي نه يي امضا کوم .

اوهمداشان دغه بيانيه په ٩ - ٣ - ١٤١٢ هـ ق نيته مامخکي دابوصالح اوابوصهيب له استعفا نه امضاء کړه اوپه بيانيه باندي دوغسي ملاحظاتو ليکلوته څه ضرورت نشته . ځکه چي زموږ هدف اصلاح راوستل ، وحدت تامينول دفتنو له منځه وړل ،اوهغو جنګونو ته چي دمجاهدينو ترمنځ دافغانستان په خاوره کي صورت نيسي خاتمه ورکول دي . ځکه چي داداسلام بدنامي اودافغانستان دمسلي دحل خنډول دي.

مولوي حسن جان

الحمدلله والصلوة والسلام علي رسول الله وعلي اله وصحبه أمابعد:

دسولي دکميسيون محترمواعضاوواوحزب اسلامي ، جماعت دعوت الي القرآن والسنه

اسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته .

دځو وجهوله مخي موږد سولي له کميسيون نه خپله استعفا اعلانوو چي هغه بياوروسته تاسي ته واضح کړو.

ابوصالح ابوصهيب

ديوابصيرته علمي شخصيت مړينه نه جبرانيدونکي ضايعه ده

مولوي صاحب واجد صاحب زاده

لابوداؤد په روايت ددي مبارك حديث له مقتضا سره سم عايشه کبيري (رض) روايت کوي چي پيغمبر (ص) موږ، ته په دي امر کړي چي دخلقومنزلي دهغوي دمراتبو په اساس په نظرکي ولري .

يوښکاره حقيقت دادي چي څومره که ديوعلمي شخصيت ژوند اوکړه وړه په اسلامي جامعه کي يو ضروري عنصراولويه شتمني ګڼل کيږي بالمقابل دهغوي مړينه هم په اجتماع کښي يوه لويه خلا اوبي ساري ضايعه بللي شو .

ابن مسعود(رض) فرمايي:ديوه عالم مړينه داسي لوي درځ اوشکست دي ،چي دشپو ورځو (عمر) تيريدل يي نشي جبيره کولي . اوبيا امرکوي چي ديوهي د قبضيدلو ترمخه پوهه اوعلم زده کړي. اوبيشکه چي د علم قبض کيدل له تري څخه ديوهي دخاوندانو تلل اومړينه ده ٢ .

له جناب عبدالله بن جبير څخه پوښتنه وشوه ، دټولو خلقوهلاکت نښانه اوعلامه څه ده ؟ هغه په ځواب کي وفرمايل : دعالم دهلاکت لويه علامه دباصيرته علماوومړينه ده . دمرګ دمولوي صاحب مړينه چي څه موده ترمخه په حق رسيدلي ټول عالم اسلام اوپه خاصه توګه افغاني مجاهدينو ته يوه تکان ورکونکي پيښه ده.

داځکه چي دهغوي علمي اوروحاني شخصيت ديوي مرکزي کمېي په څير دژوندو مراندي ځانته راکش کړي وي.

هغه دوحدت دهستي زړي اودتوکل تقوي ،شجاعت ، علمي اوعملي جهاد ښکارندوي اودلوګر پياوړي سرقوماندان ؤ.

څرنګه چي نوموړي مولوي صاحب په ژوند کي دعلماي کرامو دسرحلقي حيثيت درلود هغه مړينه هم بيرته پاته علماووته دحال په ژبه وصيت ، نصيحت اوپه جامعه کي دهغوي مسئوليتونه وريه ګوته کوي او وايي : که په شعري او کلامي جمله کي تنافر غرابت او تعقيدپيدونه رنګوي نو په انساني اوجهادي جامعه کي ترډي زيات داجتماع جرړي وباسي.

دجهاد ،هجرت اوشهادت ربړونو په زغملو داسلامي حکومت او الهي عدالت تامين ته دزړه له کومي توجه په کارده .

اي دپيغمبر (ص) وارثانو ! څومره چي له دښمن سره مقابله جهاد اومقاطعه لازم ګڼم . په هغه اندازه دښمن پيژندنه دهغوي مکر وحيله ،دسيسو اوډول ډول توطيو اودامونو ته ، پام کول اوبيا له هغه څخه دځان اوملت ژغورل ستاسو دنده ده .

دمسلمانانو عزت اوبت دجهاد په دوام اودهغه د صفونو په يووالي کي نغښتي دي دجهاد استمرار اودجهاد دقدسيت له حريم دفاع دپخوانو شان علماووفريضه ده .

دښمن ځان ته تسليم کړي اوبيا چي ځان دښمن ته تسليم نکړي اوپه دي ارتباط دملت پوهول اوتلقين ستاسو په غاړه دي.

دمجاهدينو په لاس په جهاني سويه دکمونيزم ماتي اوورسوايي يقينا د افتخاروړده ولي هير نکړي چي داکار دبل جناح يعني کپتاليزم دسيطري باعث دي اوهغوي اوس په ټول طاقت سره بي خنده داسلام اواسلامي نظام مقابلي ته رادانګي ، ځکه چي هغوي اوس بل هيڅ حريف نلري ګوري چي دوکه نشي ،که په مخ ځي شاته هم ګوري ولي چي ستاسو په مخکي يودښمن امانرشابل دښمن پټ خنجر په لاس کي ساتلي ستاوېښي تيښي پام کوي چي ستاسو دجهاد ثمري ستاسي په برخه شي داسي نه چي مندي په لا لا اومري په عبدالله وهي،خداي (ج) مکره چي له کمونستانو يا سيکولرستانو سره دقدرت په طمعه دولت اوحکومت کي شريك شي ، داځکه چي دغسي کار دښمن ته د تسليميدلو معني لري . زه ولازم دالهي عدالت اسلامي حاکميت اوشريعت پالنه تاسوته سپارم خداي (ج) دي وکړي چي په سپين مخ يوبل ته مخامخ شو.

دمجاهدينو ترمينځ دامين لقب ګټلي ؤ. هغه ؤ چي دروان کال دلړم دمياشتي په (٢٠) مه نيټه ديوي مخامخ نښتي په ترڅ کي د وطن پلورونکو له لوري په بي رحمانه ډول شهيد شو. وياړدي وي دنوموړي نوميالي په ياد

قهرمان مجاهدخيرمحمدبه شهادت ورسيد

دحق دلاري اتل داعي اوداسلامي انقلاب رښتني مجاهد خيرمحمد دعبدالرحمن زوي دکنړ ولايت داسمار ولسوالي دلاحسين کلي اوسيدونکي اودحضرت ايوب انصاري (رض) دليسي دنهم ټولګي زده کونکي دشهادت وياړلي مقام ترلاسه کړ .

مجاهد وورخيرمحمد چي يو زړه ور اودکلکي عقيدي څښتن شاګرد و په ډير زړورتيا دتعليم ترڅنګ يي ددښمنانو هر ډول توطيي شنډولي اوهميشه به يي درخصتي په وخت کي دکنړ ولايت دجهاد په سنګرونو کي په پوره ميړانه دملحد پلو اوتوطيه ګر ويه خلاف په رواني جګړوکي ونډه اخيسته اوپه ډيرکم عمري

دالوتکي په راغورځيدوکي پر ليبياتورلګول دامريکاتبليغات دي

امريکي الوتکي دراغورځيدو مسئوليت په ليبيا اچوي ترڅو ليبيا دمنځني ختيځ په نامه سوله ايز پروګرام سره خپل مخالفت پريږدي ، دايران راډيو په يوه تبصره کي ويلي چي امريکا دالوتکي په لويدوکي دګيو هيوادونو نومونه اخلي ولي دليبيا

ايران امريکا تورنه کړي چي په دروغو د ١٩٨٨ کال په اوړدوکي دپان تورنول دمنځني ختيځ دفعلي حالت په ارتباط دامريکا دروغجن تبليغات دي .

ابلاغيه سوم کميسيون صلح دررابطه سفرآنهابه کنر

باوجوداينکه کميسيون مصالحه ازطرف جماعت دعوت به تعقيب بيرون رفتن دونفر عضو آن منحل اعلان شد ، کميسيون صلح کارخورا دوام داد، زيراکه خداوند. به صلح امرميکند واين را دوست دارد .

چون قوماندان حزب اسلامي درکنر قبل ازانحلال کميسيون صلح خواستار رفتن هيئت مذکور به کنر شده بودند بناءً هيئت بروز شنبه تاريخ ٤ر٤ر١٤١٢ که موافق با ١٢ر١٠ر١٩٩١ است عازم باجور شد ودرآنجا، بامسئولين حکومت موقت ، حزب اسلامي ، جماعت دعوت الي القرآن ملاقات کرد، جوانب سه گانه دررابطه برعايت آتش بس تعهد سپردندکه درصورت تخلف مکلف به جبران خساره مي باشند ازطرفين درگير اسناد تحريري نيز گرفته شد .

بروزيکشنبه هيئت صلح به معيت نماينده حزب اسلامي ونمايندگان حکومت مؤقت عازم کنر شدند . درمنطقه ناوه پاس قوماندانان کنرهيئت صلح را استقبال کردند وازهيئت نسبت برخوردي که بآنها باراول شده بود معذرت خواستند . وقوماندانان اطمينان دادند که باهيئت کومك ميکنند وامنيت آنهارامي‌گيرند، وزمينه رفت وآمد رادرهمه کنهراي ايشان آماده مي سازند .

هيئت سفرخودرا ادامه داد تا اينکه به منطقه سرکانورسيد ودرآنجا قوماندان کشميرخان دراستقبال به هيئت خوش آمديدگفت . وهيئت بخاطر حصول معلومات بيشتر باکشميرخان وقوماندانان ديگر از تنظيمهاي مختلف مذاکره کرد ، ودرهمين وقت ٣ مرمي مزايل به شهراسعدباد کتراصابت کردکه درنتيجه يك نفرکشته و ٢ نفرزخمي شد هيئت محل حادثه رامشاهده کرد قراين دال برآن بود که اين مزايل ازطرف دره پيچ که شمال غرب اسعدآباد واقع است فيرشده باشد گرچه بصورت قطعي محل فير تثبيت شده نمي تواند حادثه را هيئت توسط کامره تلويزيوني ثبت کرد. درروز بعدي هيئت صلح به سوي دره پيچ حرکت کرد که درآن جا مرکزهاي جماعت دعوت وجود داشت . موترهاي سواري درامتداد راه تامرکز " دره پيچ " که مانوگي ، نام دارد درحالت رفت وآمد ديده ميشد . دکانها و دواخانها درامتداد راه بازبود . وموترهاي پيك اپ درحال انتقال مواغذايي وديگر ضروريات از ولايت بطرف دره پيچ ديده مي شد واين همه توسط کمره تلويزيون عکاسي شد . درمانوگي کميسيون يك شبانه روز توقف نمود وبه اعضاء شوري جماعت دعوت، که رئيس اش عبدالرحمن مشهوربه خان ملا معاون مولوي سميع الله است ملاقات کرد .

حاجي روزي محمد، ومولوي فضل جلال وديگرمسئولين هم درشوري اشتراك داشتند . کميسيون ازفيصلهاي که قبل ازانحلال کميسيون صورت گرفته بود ، شوري رامطلع گردانيد و آنهارا درجريان موفقات چهارگانه که بين طرفين صورت گرفته بود گذاشت .

مولوي عبدالرحمن وانمود کرد که آنها ازفيصله هاي کميسيون بي خبراند وصرف ازانعقاد موافقت صلح آگاهند وبس . وکميسيون ازهمه فيصله هاي خوديك يك نسخه رابه آنهاداد . وازآنها خواست تافيصله هاي اتفاقي راکه مولوي سميع الله هم آنراامضاکرده است رعايت کنند .

درروز بعد باموولي سميع الله بحضوربعضي ازآنها درشوري ملاقات کرديم . موقف ايشان چنين بود .

١- تطبيق فيصلهاي چهارگانه (دوام آتش بس ، بازنمودن راه ها ، تسليم کردن مراکز ، بيرون کشيدن قوا) مشکل رابطورکلي حل نميکند . وتطبيق بعضي فيصله ها شايد باعث درگيري دوباره شود

وعلاوه کردند که راجع به آتش بس ازطرف خود اطمينان ميدهيم ولي شايد حضوربعضي افراد انتقام جو درمنطقه مانع اين امرشود .

واجع به بازنمودن راه بايد گفت که آنهامي خواهند راه انتقال سلاح ومهمات نظامي بازگردد زيرا مواد غذايي بو فرت وجود دارد ونسبت به مناطق ديگر ارزانتر يافت مي شود .

وراجع به تسليم مرکز هاوتبادل آنها اظهارداشتند که اين کار باعث نزديك شدن طرفين متخاصم ميشود واحتمال درگيري رابيان مياورد . واين هم کفايت نميکند که مرکز هاي جماعت دعوت پس داده شود بلکه ضروري است که همه تنظيمهاي ازجماعت الدعوت اطاعت وپيروي کند .

وراجع به کشيدن نيروها گفت که بااطلاع رسيده که حزب اسلامي مجاهدين سايرولايات را دوباره به مراکز شان سوق داده است وبه همين اساس نظرااين بودکه تطبيق فيصله ها ي صلح قبل ازوقت است ايشان خواستار تحقيق درباره امارت کنرشدند وگفتند که اگرامارت کنرامارت شرعي باشد پس بايد به اسعدآباد برگردد، وهمه ازاواطاعت کنند. واگرامارت شرعي نبود پس آنها به هرطرف که ميخواهند ميروند وتحت حکم امارت خودميباشند وهيئت درجواب گفت تاوقتي که دراين مورد قاضي شرعي تعين ميشود ماخواستار دوچيزازشماهستيم .

١- دوام دادن به اوربند
٢- ماندن مجاهدين درجاهاي خودوعدم پيشرفت تاباعث درگيري نشود .

حاجي روزي محمد اين دوضمانت راقبول کرد بشرط اينکه به آنها ثابت شودکه حزب اسلامي حاضربه قضاء شرعي است ودراين رابطه هيئت حزب اظهارداشت که حزب ازابتدا به اين کارآماده بود .

زيرا ارجاع فيصله بشرع حنيف ازخصايل هرمومن است لاکن مناسب است تااولاً بيعت حزب باامارت ثابت شود ودرقدم ثاني درشرعي بودن ويا غيرشرعي بودن امارت بحث شود .

هيئت صلح به قومندانان همه اطراف مذاکره کرده وراجع به علل درگيري ازجوانب قضيه طالب معلومات شد آنهاگفتندکه علت جنگ عقده نبوده بلکه مسئله اطاعت ازامارت کونر بود . واين رامولوي عبدالرحمن که معاون امارت کونربودتصديق کرده .

ودرمجموع موقف طرفين دوگيرچنين بود .

١- جماعت دعوت : معطل کردن همه فيصله هاي کميسيون صلح ، تاوقت صدور فيصله شرعي راجع به شرعي بودن امارت کونر .

٢- حزب اسلامي : درقدم اول فيصله اوربند، وبازنمودن را هها ، تطبيق شود، درقدم دوم يك اداره مشترك تشکيل شودباز تطبيق قرارداد ها، تبادل مرکزها ، وکشيدن قوا) صورت بگيرد.

ووقتيکه به کميسيون صلح ثابت شدکه تطبيق فيصلهاي مذکور امکان ندارد پس کميسيون بروزپنجشنبه بتاريخ ۹ر۴ر۱۲ ١٤ که موافق ١٧ و ١٠ر١٩٩١بود به پشاورعودت کرد تاباکسانيکه اين فيصله هارا امضاء کرده بود تماس گرفته شود شايد نزد ايشان طرح هاي ديگري هم باشد

شيخ فياض ، قاري محمدشفيع ، الشيخ سعدالشريف، الشيخ ابوهاجر

ارشاد نبوي

حضرت ابوهريره (رض) از پيامبراکرم (ص) روايت ميکند: شهدا پنج گروه اند: آنکه بطاعون بميرد وآنکه دربيماري شکم (اسهال) بميرد وآنکه غرق شود وآنکه زيرويراني بميرد وشهيديکه در راه خدا (جهاد) به شهادت ميرسد.

(متفق عليه)

شهادت
بيانگرعقايد وآرمانهاي حزب اسلامي افغانستان
مؤسس : انجنير"حکمتيار"
صاحب امتياز : حزب اسلامي افغانستان
ناشر :رياستارشادوفرهنگ
سال تاسيس : ۱۳۵۷ هجري شمسي
تحت نظرهيئت تحرير
تلفون : ۶۳۷۸۹- ۴۲۲۰ ۳۰ پشاور
پوست بکس (۱٤٦۵) پوهنتون تاون پشاور

دبلخ ولايت مؤمنومجاهدينو پنځه کلي دکمونستي رژيم له منګلوڅخه آزادکړل

بلخ :

دمېهيا آژانس دبلخ ولايت دېوي جهادي منبع په حواله دشهادت ورځپاڼي اداري ته خبرراکوي چي دنوموړي ولايت مومنو مجاهدينو دروان کال دلړم دمياشتي په ۲٦ مه نېټه دبلخ ولسوالي په دوه کيلومتري کي درژيم دمليشه و وپه عمده مرکزونو باندي بريالي عمليات ترسره کړل چي ديونيم ساعت سختي جګړي څخه وروسته دکمونست رژيم يوتن منصبدار او۱۱ تنه مليشي ژوندي نيول شويدي .

همداراز دري عرادي زغروال ټانکونه ، ۱۸ ميله درنه وسله ، ۱۷۵ ميله کلاشينکوفونه ، پنځه ميله زيکاويک ، څلورميله پي کا ، دري ضربه توپونه ، اوه ميله آر، پي جي ۷ راکټونه ، دوه ميله اګايس ، دري عرادي پوځي موټرونه دزيات شمېر پوځي اولوژيستکي موادو سره يوځاي په غنيمت نيولي دي .

ريوټ زياتوي چي پدي تصفيوي بريالېو عملياتو کي دخاد وشبکي ځالګي ړنګي شوي اومجاهدينو دبلخ ولسوالي په لور دپرمختګ په لارکي خپل سنګرونه ټينګ کړي اوعمده موانع يي لري کړيدي .

په خبرکي درژيم اومجاهدينو دافرادو دمرګ ژوبلي په هکله څه ندي ويل شوي .

به اثرقحطي ناشي ازحوادث وآفات طبيعي صدهافاميل ازمناطق مرکزي افغانستان مهاجرشدند

خبرگزاري ميدبا گزارش مي دهد که دراوائل ماه نومبرسال جاري عيسوي صدهافاميل ازمهاجرين افغاني ازولايات باميان ، وردك ، پروان و ارزگان به اثر سيلاب ناشي ازبارانهاي تابستاني که ازمناطق کوهي سرازيرگرديده اکثريت زمين هاي زراعتي وحاصلات راخساره مندنموده سبب آوارگي ومهاجرت مردم به ولايات ديگر افغانستان ومناطق کويته بلوچستان ، صوبه سرحد وايران شده است .

گزارش مي افزايدرحاليکه نرخ گندم في سير ۲۵۰ افغاني مي باشد بصورت درست دست ياب نمي گردد . بناء مهاجرين تازه وارد درکمپ هاي مهاجرين ازموسسه هاي خيريه جهاني خواستارکمك هاي عاجلي گرديده اند .

مسکوته دمجاهدينو دهيئات سفردمجاهدينو ستربري دي

استادرباني

دافغان مجاهدينو هغه هيئات چي له مسکو نه بېرته راستون شوي په اسلام آباد کي په يوه مطبوعاتي مرکه کي شوروي ته خپل سفردمجاهدينو يولوي بري وباله ، وبي ويل، سره ددي چي په دي هيئات کي ددريو تنظيمونونمايندگان شامل نه وو، ولي بياهم دمسکوخبري دمجاهدينو لپاره دېري ګټوري اوپه زړه پوري وې .

دهيئات مشر استادبرهان الدين رباني هيله ځرګنده کړه چي دغه دري تنظيمونه به په راتلونکو خبروکي برخه واخلي، اوپه هغه کميسيون کي به غړيتوب ولري چي په تدريجي ډول به عبوري اسلامي حکومت ته دقدرت په انتقال اودروسي جنګي اسيرانو په هکله بحثونه کوي او تصميم به نيسي . پدي کميسيون کي به دکابل رژيم نمايندگان شامل نه وي .

استادرباني زياته کړه چي په کميسيون کي دکابل رژيم نمايندگان نشي رغملاي .

۳ مخ

۱٦ نفرازافراد رژيم کابل درجوزجان کشته وهفت نفراسيرگرديد

جوزجان - افغان نيوزايجنسي :

راپورهاي واصله ازولايت جوزجان مشعراست که مجاهدين مومن آن ولايت طي عمليات موفقانه شان به تاريخ ۲۰ رېږ ۱۳۷ بالاي پوسته هاي چچه خان آباد درمنطقه حيرباش وشوراوك درسرك عمومي شبرغان ومزارشريف ۱٦ نفر از افراد رژيم کابل را به هلاکت رسانيده ۷ نفر را اسيرنمودند .

گزارش مي افزايد : که درين عمليات ۳ عراده تانك حريق گرديده ٦ ميل کلاشينکوف ويك عراده موتر به غنيمت گرفته شد .

خبرعلاوه مي کند که ازمجاهدين درين عمليات ۲ نفر جراحات سطحي برداشتند

پکارده چي نجيب ژرترژره له کاره گوښه شي

دپاکستان پيپلز پارټي مشري بي نظيربوټو ددوبي له يوي ورځپاڼي سره په مرکه کي ويلي چي دهنداوپاکستان ترمنځ دکشميرستونزه هغي مرحلي ته رسيدلي چي په سيمه کي ددريم جنګ سبب هم کيداي شي ،هغي وويل هند په داخلي ستونزوکي راګير دي اوکيداي شي دعوامو د توجه اړولو لپاره په پاکستان حمله وکړي.

بي نظير بوټو دا هم وويل چي څنګه چي دروسانو لاسپوڅي نجيب دواکمني پرېښودو ته تيار نه دي نو پکار دي چي دملګروملتو دنماينده ياعمومي منشي پواسطه خبري اترې پيل شي ، هغې زياته کړه مونږ نورنجيب لېري کيدو ته انتظار نشو کولاي ، پکارده چي نجيب ژرترژره له کاره ګوښه کړاي شي او مسئله په سوله حل شي هغې دا هم وويل چي دافغانستان دستونزي دحل کيدو په صورت کي دپاکستان ،ايران ،ترکيي افغانستان اومنځني اسيا دهيوادو ترمنځ پوسيمه ايز مارکيټ هم منځته راتلاي شي.

ديوبابصيرته علمي شخصيت مړينه نه جبرانيدونکې ضايعه ده

مولوي محمدالدين مشهوربه مولوي صاحب چپي

(۷)مخ

دپښتون زرغون په ولسوالي کي دکاروا ګل مير دکليو پوستي له منځه يوړل شوي

هرات : دلړم ۱٦مه .

دهرات ولايت دپښتون زرغون ولسوالي وياړمنو مجاهدينو دميديا په حواله خبر راکړي چي دنوموړي ولسوالي سرتيروغازيانو دروان کال دلړم دمياشتي په ۱٦ مه نېټه دکارو ، اوګل مير دکليو پوستي ترخپلو بريدونو لاندي ونيوي چي په نتيجه کي دواړه کلي آزاد اوګڼ شمېر کمونستان ووژل شول.

خبر ځاي ليکي دمجاهدينو پدي بريالي بريدکه يوموبل هاوان ، يوموبل زيکاويك ۳۰ ميله کلاشينکوفونه يوه دمخابري دستګاه اويو زياته اندازه لوژستکي سامانونه په غنيمت نيول شوي او مجاهدينو ته کوم تاوان ندي رسيدلي.

ديوه بل خبر له مخي مجاهدينو دلړم په (۱۵) مه نيټه ديوه بل بريد په ترڅ کي چي دژنده جان ولسوالي د بازارك په پوستو يي ترسره کړي د لاس پوڅي رژيم يوه پوسته فتح ګڼ شمېر مليشيان اوعسکر مړه اويوموبل راکټ په وجه نيولي.

پدي عملياتوکي له مجاهدينو څخه يوکس دخښ کرشوي مېن دجاويد و له امله په شهادت رسيدلي روح يي دي ښادوي.

همداراز مجاهدينو دلړم دمياشتي په ۱٤ مه نېټه دهرات تورغندي دلاري په اوږدوکي دکمونيست رژيم يو زغروال ټانګ ديوه خښ کرشوي مېن په وسيله ويجاړ کړي اويکي سپاره کسان يي وژلي دي.

دخبر په تفصيل کي ويل شوي چي مجاهدينو دروان کال دلړم په ۲۵ مه نېټه ديولړ هماهنګوعملياتو په بهير کي چي دژنده جان ولسوالي په پوستو يي ترسره کړل دلاس پوڅي رژيم له پلويانو څخه يي (۸) ميله کلاشينکوفونه، يوامبولانس موټر اودوه دمخابري دستګاوي په وجه نيولي اومجاهدينو ته کوم تاوان ندي رسيدلي .

په لبنان کي دوه يرغمل آزادکړل شول

برتانوي يرغمل ترې ويټ چي پرون آزادشوي دي ټن خپل هيواد ته ورسيد دنوموړي‌سپرلي الوتکه دانګلند په جنوب دبرتانيي دشاهي کورني دالبرلين په هوايي ډګر کي راکوزه شوي ده .

له الوتکي نه دراوتو په وخت کي ويټ يوه وينا وکړه اوپه هغه کي يي دهغو کسانو ستاينه کړي چي دده دنيولو موضوع يي پرتيرو پنځوکلونو کي ژوندي ساتلي وه .

همدا راز ده دملګروملتونو دمشراو دهغه داستازي چي منځني ختيز کي ديرغملبانو اوبنديانو دخلاصون په لاره کي يي هڅي کړي دي ستاينه کړي ده .

امريکا يي يرغمل نامزصدرلند چي هغه هم دويټ سره پرون يو ځاي خلاص شوي ده اوس په جرمني کي په يوه پوځي روغتون کي دخپلي کورني سره يوځاي شوي دي.

کشورهاي غربي به شوروي يکسال مهلت دادند تا ربح قروض خارجي خودرابپردازد

مامورين مالي کشور هاي غربي که درماسکو جلسه کرده اند با اتحاد شوروي يك مهلت يکساله رادرپرداخت ربح قروض خارجي که بين شصت وپنج وهشتاد مليارد دالرتخمين‌ميشود پيشنهاد کرده اند.

يك مامور مالدويا گفت : مامورين غربي هم چنان قرضه يك ملياردالر ي رابه اتحاد شوروي پيشنهاد کرده اند که مشکلات کمبود پول نقد خود را رفع نمايد. اين پيشنهاد ها درحالي ارايه مي شود که هشت جمهوريت از جمله دوازده جمهوريت باقيمانده درشوروي موافقه کرده اند که قروض خارجي شوروي را بپردازند.

گزارش ها از مسکو حاکيست که اوکراين ،آذربايجان ، ازبکستان وگرجستان تصميم گرفته اند که اين موافقت نامه را امضا ننمايند.

ترگت اوزال حمله اسرائيل به يك محکمه اسلامي دربيت المقدس رامحکوم کرد

تورگت اوزال حمله ديروز نيروهاي امنيتي اسرائيل بريك محکمه اسلامي دربيت المقدس را محکوم کرده است .

نمايندگان اين محکمه نيز پوليس را متهم به ضبط مدارك نموده اند. ابوجابر وزيرخارجه اردن حمله ديروز نيروهاي اسرائيلي رايك جرم غير منتظره خواند وگفت که با اين اقدام اسرائيل نشان ميدهد که براي ارزش هاي مذهبي وتاريخي احترام ندارد ، وي هشدار داد که اين اقدامات بر روند صلح شرق ميانه لطمه وارد خواهد آورد . موصوف در سرزمين هاي اشغالي خواستار اعتصاب عمومي به نشانه اعتراض عليه اقدام اسرائيل شده است.

ايران پروازهاي منظم طيارات خودرابه کويت آغازکرد

هواپيمايي ملي ايران پرواز هاي منظم خود را به کويت بعداز يك وقفه ده ساله ازسرگرفت . روزشنبه يك طياره جمبوجت ايران درميدان هوايي کويت فرود آمد ودرعين روز به تهران بازگشت - اين پرواز درهر هفته يکبار صورت خواهد گرفت از سرگيري اين پرواز ها روز دوشنبه درکويت وتهران ازهردوجانب تائيد گرديده است.

دپاکستان اوامريکا لوړرتبه مامورينو په اسلام آبادکي غونډه وکړه

دپاکستان او امريکا لوړ رتبه مامورينو په اسلام آبادکي غونډه کړي. دوي دپاکستان داتومي پروګرام په انديښنه کي دامريکا اوپه پاکستان باندي د امريکا دپوځي اواقتصادي کومکونو دبنديدوپه باره کي خبري کوي.

دامريکا په خارجه وزارت کي دبين المللي امنيت دچارو مرستيال ديجنل بادولو مېو لوړرتبې امريکايي لوړ رتبه مامور دي چي پاکستان ته سفر کوي.

دپاکستان دخارجه وزارت دمامورينو له قوله ويل شوي دي چي دامذاکري په ډيره ښه فضا کي شوي دي ليکن دسيمي له راغلي ريپوټونه دانه ښيي چي پدي مذاکروکي دي يوي خوا هم خپل دريځ کي څه نرمښت راوستي وي.

بادولوميو به پدي سفرکي دپاکستان جمهور رئيس غلام اسحق خان اوصدراعظم نوازشريف سره هم وګوري.

منع ارسال موادغذائي به مناطق کردنشين حقيقت ندارد .

محمدمهدي صالح وزيرتجارت عراق اين گزارش هاي خبري راتکذيب نموده که حکومت مواد غذايي کافي رادردسترس مناطق شمالي کشورکه کردها دران سکونت دارند قرارنميدهد گزارش ها حاکيست که عساکرحکومت مانع عبوروسايل نقليه حامل مواد غذائي وسوخت به شمال شده است .

حکومت عراق به سازمان هاي امدادي بين المللي اجازه توزيع مواد رابه ساکنين اين مناطق نداده است .

صالح گفت اگرمشکلاتي درارسال مواد موجود باشد ناشي ازاقدامات عناصر غيرمسئول کردي است که لاري هارا تاراج نموده ويابه آتش کشيده اند . وي اظهارداشت که حکومت عراق به مبلغ دوملياره دالر مواد غذائي راقرارداد کرده است امانميتواند اين مواد را به کشور وارد نمايد زيرا دارائي هاي آن درخارج قيدگرديده

اخبارجهان

سامان آلات غني ساختن يورانيوم عراق تحت نظارت هيئت ملل متحد منهدم گرديد.

يك هيئت تفتيش ملل متحد از انهدام اکثر سامان آلات مکشوفه غني ساختن يورانيوم درعراق نظارت کرده است.

يورانيوم غني ساخته شده در توليد اسلحه ذروي بکاربرده شده ميتواند.

ديمتري پريکوس رئيس اين هيئت اظهارداشت که گفته نميتواند که تمام تجهيزات عراق منهدم شده باشد.

ليبيا دپان امريکن الوتکي دغورځيدو د معلومولولپاره مرستي ته حاضره ده

دليبيا دعدليي وزارت وايي چي دغه وزارت‌به يوسلواودريم پروازطياره کي ديم ابېنودوړحقيقت په معلومولوکي له نوروقانوني مقاماتوسره همکاري وکړي.

دنوموړي وزارت يو قاضي مؤظف کړي دي چي د برېتانيي په هغه غوښتنه غور وکړي چي برېتانوي مقاماتو ته د بم ايښودو په الزام دوتورنولېبياياتو دورسپلو په باره کي يي کړي .

برېتانيي اومتحده ايالاتو دهغو دوارو په خلاف چي دليبيا دحکومت جاسوسان بلل شوي دي جزايي دوسيه ترتيب کړي ده.

ليبيا په دغه بم‌ايښودوکي له هرډول ګډون نه انکار کړي ددغي چاودني په نتيجه کي طياره په سکاتلند کي وغورځيده او (۲۷۰) کسه پکي ووژل شول.

جاپان وکورياي شمالي مذاکرات راآغازنمودند

جاپان وکورياي شمالي روزسه شنبه مذاکرات شانرا درپيکنگ روي تاسيس روابط ديپلوماتيك ادامه دادند.

موضوع مورد مناقشه غرامت جنگ است که کورياي شمالي ازجاپان مطالبه دارد . جاپان جزيره نماي کوريا را ازسال ۱۹۱۵ تاسال ۱۹٤۵ دراشغال خود داشت . جانب جاپاني گفته است که تقاضاي کورياي شمالي را براي پرداخت غرامت جنگ بخاطر اشغال کورياقبول کرده نميتواند . قراراست دوجانب امروز تفتيش تاسيسات ذروي کوريائي شمالي را مورد بحث قراردهند . تفتيش اين تاسيسات را جاپان يك شرط قبلي براي تاسيس روابط با کورياي شمالي ميداند.

صنعتي هيوادونه دنورو په ګټه کارکوي، رفسنجاني

دايران جمهور رئيس رفسنجاني صنعتي هيوادونه تورن کړي چي دنوروهيوادونو دمنابعو نه ګټه پورته کړي هغه ددوي هغه نظريه ردکړه چي پرمخ تللي اقتصاد دشمال اوجنوب ترمنځ اقتصادي فاصله سره لنډ وي .

دايران جمهور رئيس داوينا په تهران کي د ۷۷ ولي کنفرانس ته چي نژدې (۱۳۰) دپرمختګ په حال کي هيوادونو ته جوړه شوي دغه‌کړله نوموړي دي کنفرانس ته په خپله افتتاحيه‌ويناکي وويل چي بايد دانکشاف په حال کي هيوادونه د پرمخ تللو هيوادونو ته تضمين ترلاسه کړي چي دتکنالوژي اوغريت په برخه کي نابرابري له مينځه يوسي .

بوش سفربيکر به چين را مؤفقانه خواند .

بوش ميگويد سفر جيمزبيکر وزيرخارجه امريکا به چين که تازه به پايان رسيد کاملاً مؤفقانه بود.

قصرسفيدميگويد : رئيس جمهور امريکا از پيشنهاد همکاري چين درمحدودساختن فروش راکت مسروميباشد.

قصرسفيد ميگويد : ماموريت بيکر فرصتي را ميسرساخت که نگراني امريکارادرمورد بدرفتاري دربرابر صدها ناراضي چين ابراز گردد.

اکثراعضاي کانگرس امريکا ازحزب دموکرات ازسفربيکر به چين انتقاد کرده وگفتند : اين سفرنشان ميدهد که حکومت امريکا برتخلفات چين درحقوق بشربانظرملاطفت مي نگرد.

دبنګلديش دبهرنيوچاروززيربرماته سفرکوي.

په برماکي دميشته مسلمانانو مشرانو بنګلديش ته اپيل کړي دي چي درنګون واکمنو نه غوښتنه وکړي چي دمسلمانانو سره دهغوي د ستونزو په حال کي موافقه وکړي.

دااپيل برما ته دبنګلديش دباندنيوچارودوزيررحمن سفرنه مخکي ورانډي شوي دي نوموړي به دپنجشنبي په ورځ برما ته خپل سفرپيل کړي دي به دخپل سفر په اوږدوکي دتصميم له مخي د (....۳) برمايي مسلمانانو ددوباره لېږلو په اړوند چي بنګلديش ته مهاجر شوي دي خبري وکړي.

وزيردفاع امريکا واردکورياي جنوبي شد.

ريچارد چيني وزير دفاع امريکا براي مذاکراتي وارد کورياي جنوبي شد لي چونکو رئيس اموردفاعي کورياي جنوبي ميگويد پروگرام ذروي کورياي شمالي به نحوي مضطرب کننده يي درجهت انکشاف اسلحه ذروي پيش مي رود.

انتظار مي رود مامورين امريکا وکورياي جنوبي راه هاي غيرنظامي را براي ترغيب‌کورياي شمالي به بازکردن تاسيسات ذروي بروي تفتيش بين المللي جستجونمايند.

ازبکستان دخپلواکي په هکله دخلکو نظريات راغونډوي.

دتاس دخبر رسولو آژانس ريوټ ورکړي چي دازبکستان پارلمان تصميم نيولي چي دجمهوري رياست انتخابات دازبکستان دخپلواکي داخستلو په غرض دروان کال ددسمبر د مياشتي په (۲۹ مه نېټه دخلکو نظريات معلوم کړي.

همدا راز نوموړي آژانس ريوټ ورکړي چي دازبکستان پارلمان دازبکستان دبيرغ په ارتباط چي په تاشکند کي به د جمهوري رياست په ماني باندي اوچتيږي يوه فيصله صادره کړي ده .

امريکا مناسبات ديپلوماتيك خود را با کمبوديا برقرارنمود.

امريکا مناسبات خود را باکمبوديا پس از شانزده سال انقطاع باردېگربرقرارساخت .

شهزاده سهانوك پيش ازقبولي اعتبار نامه نماينده خاص امريکاگوشزد نمودکه درامورسياسي کمبوديا مداخله نکرده ودرعوض کمکهاي اقتصادي راتقاضا کرد.

يوازي يوځواکمن اسلامي حکومت کولاي شي په سيمه اوهيوادکي سوله تضمين کړي